عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۲/۲۱

# حیران یم

وايي: نن د مورنۍ ژبې ورځ ده.

«مورنۍ ژبه» له دوو ویيونو جوړ ترنګ (ترکیب) دی: [مور- نۍ + ژبه] دلته قاعده (مور) ده او ژبه د دغې قاعدې پربنسټ مانا مومي.

حیران ځکه یم، چې مور (مور) وژلې ده، خو ژبه يې لمانځو.

په پیداګوژیک منطق کې هغه ثوک چې له زدکړو محرومه/ محروم شي، نو مړه/ مړ شي، که څه هم په فیزیکي - بیولوژیکي بڼه ژوندی/ ژوندی وي.

مور خپلې میندې، خویندې او لوڼې له ښوونځي، پوهنځي، کار او ټولنیز ژوند څخه شړلې دي، د پیداګوژیک منطق له مخې مو وژلې دي، خو (ژبې) يې لمانځو او خوشالي کوو.

دا څه مانا؟

نالوستي، بېخبره، ویرې و محرومیت ځپلې، له هویتي شعوره بېبرخې مور به نو خپل ماشوم ته څه وروښوولای شي؟

تر ژبې د مور ژوند ړومبی دی.

د مور ژوند وژغورئ، زه ضمانت درکوم، چې ژبه يې هم ژغورلای او لا د ټولو ژبو میره جوړولای شئ.

نه پوهېږم، چا ته؟ د څه شي مبارکي ورکړو؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ